## مطبوعاتي اعلامیه

## په داسې حال کې چې کفر د دوی د دوه اړخیزې شخړې له امله کمزوری کېږي، تاسو خلافت تاسیس کړئ، تر څو کشمیر او مسجد الاقصی ازاد شي

د ۲۰۲۰م کال، د جون په ١٦مه لږ تر لږه ۲۰ هندي عسکر د چینایانو له خوا ووژل شول. د کړکېچونو په جریان کې پاکستان د خلافت د بیا تاسیس لپاره یو مناسب فرصت تر لاسه کوي. که څه هم د پاکستان مسلمانانو د هندو هېواد زیانونه ولمانځل، مگر اسلام له دوی څخه د سیمه ییزو او نړیوالو اغیزمنتیاوو لپاره د ستر گام تمه لري. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿...تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا وَقُلُوبُهُمْ شَتَّى ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ﴾[حشر: ۱۴]**

***ژباړه:*** *...تاسو دوی سره غونډ گڼئ، مگر د دوی زړونه یو له بله بېزاره شوي دي. د دوی دا حال د بې عقلی له امله دی.*

کفار د مسلمانانو پر وړاندې په دوښمنۍ کې سره متحد دي، لکه څنگه چې هندوستان په کشمیر او چین په ختیځ ترکستان کې د ایغور پر مسلمانانو ظالمانه یرغل وکړ. په ورته وخت کې د کفارو نظریات، اسناد او غوښتنې سره توپیر لري چې د دوی تر منځ د سختو نښتو لامل کېدای شي. په سیمه ییزه کچه مودي د چین د کنټرولولو لپاره د امریکا پلان خاري، تر څو یې پر خپل ناروغ چمتو شوي ځواک فشار راوړي. په نړیواله کچه، د مودي بادار (امریکا) په بېلا بېلو ډگرونو کې له چین سره په جگړه بوخته ده. په داسې وخت کې چې اقتصاد یې مخ پر ځوړ دی او روغتیایي پاملرنه یې هم مخ پر کمېدو ده. د دوی پوځ د درانده بار کمولو ته لیوال دی او خلک یې هم په نژادي او سیاسي ډول وېشل شوي دي. په حقیقت کې دا د نبوت پر منهج د راشده خلافت د تاسیس غوره وخت دی، چې د اسلامي امت وسله وال ځواکونه سره متحد شي او اشغال شوې اسلامي خاورې ازادې کړي. د دې پر ځای د باجوه ـ عمران حکومت امریکا ته په ړندې پیروۍ ټینگار کوي او په دې توگه د الله سبحانه و تعالی له لوري پر ورکړل شوي فرصت سترگې پټوي او دا ورځ تر بلې د مسلمانانو بېوزلي او نا امنۍ ډېروي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

اسلام په نړیواله کچه موږ د اسلام د لوړوالي پر تاسیس مسوول ګرځولي یو. په دې توګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم او له هغه وروسته راشده خلافت هغه وخت دا فرصت تر لاسه کړ، چې د روم او فارس امپراتورۍ د دوی د دوې اړخیزې شخړې له امله کمزورې شوې دي. هغوی چې د الله سبحانه و تعالی له نازل شوي کلام سره سم یې حکم کولو، دا امپراتورۍ یې راوپرځولې. د دوی ډېری خاورې د مسلمانانو له خاورې سره یو ځای کړل شوې، په داسې حال کې چې د دوی کسان اسلام ته داخل شول. راشده خلافت نه یوازې زموږ د تاریخ یوه ویاړلې برخه ده، بلکې دا په تود هر کلي سره د اسلامي امت یو واحد سیاسي تقدیر دی.

الله سبحانه و تعالی له هغو کسانو سره ژمنه کړې، چې ایمان یې راوړی او نېک اعمال تر سره کوي، چې دوی به په ځمکه کې بریالي شي.

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ...﴾ [نور: ۵۵]**

***ژباړه:*** *الله سبحانه و تعالی ستاسو د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی او غوره اعمال ترسره کوي، ژمنه کړې ده چې هغوی به په ځمکه کې هماغه ډول خلیفه ګان وګرځوي لکه چې له هغوی څخه مخکې تېر شوي خلک یې ګرځولي وو...*

رسول الله صلی الله علیه وسلم له ظالمانه واکمنۍ وروسته د نبوت پر منهج د خلافت د بیا راګرځېدلو زیری ورکړی دی:

**«...ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

***ژباړه:*** *...بیا به د نبوت پر منهج خلافت تاسیس شي.*

نو راځئ موږ ټول په وسلوالو ځواکونو کې له خپلو زامنو سره اړیکه ونیسو او د مصعب بن عمیر رضی الله تعالی عنه په څېر، چې د یثرب پر سرېیو یې ټینګار وکړ چې دوی ته د اسلامي دولت د تاسیس لپاره نصرت ورکړي. بیا به د شیخ عطا بن خلیل ابو رشته تر مشرۍ لاندې په سرینګر دره او مسجد الاقصی کې د فتح تکبیرات وایو ان شاء الله.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۱ هـ.ق کال، د شوال ٢٦مه

۲۰۲۰م کال، د جون ۱۷مه

د صدور گڼه: ٦٩/ ۱۴۴۱